# مجله علمی دعوت

سال دوم، شماره دوم، بهار ۱۴۰۰

## در این شماره:


- سخن نخست
- ماهیت روابط بین الملل در نظریه سیاسی اسلام
- د سیاسي حزبونو شرعي حکم
- بررسی پیدایش تروریسم نوین درچارچوب نظریۀ برخوردتمدن‌ها
- جنایت علیه اشخاص و حقوق بشردوستانه
- مهم‌ترین منابع چالش‌زا میان هند و پاکستان در افغانستان
- نقش آموزش نیروی انسانی در توسعۀ اقتصادی
- مدیریت کې د رهبری سبکونه
- التوثيق والاستشهاد بالشعر في تفسير معاني ألفاظ القرآن، ...

# د سیاسي حزبونو شرعي حکم

**دکتور شیر علي ظریفي***
*د دعوت پوهنتون د علمي چارو مرستیال

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله وأصحابه ومن اهتدی بهدیه ألی یوم الدین.
په افغانستان کې د اوسنیو او راتلونکو شرایطو په نظر کې نیولو سره د سیاسي حزبونو موضوع خورا مهمه او ژوندۍ ګڼل کېږي، ځکه د دولت او مخالفینو تر منځ خبرې روانې دي، او د اساسي قانون محتوا هم تر غور لاندې ده، نو دا مې لازمه وګڼله څو د شریعت له مخې د معاصرو دیني علماوو نظریات او د هغوی دلایل په خلاصه توګه سره راټول کړم، څو لوستونکو ته د یوې مطرح موضوع په هکله عمده او کوټلي معلومات وړاندې کړم.

## د مقالې نچوړ

حزب جوړونه یوه نازله او معاصره فقهي موضوع ده، چې د زماني شرائطو ته په کتو باید ورازول شي. د هغو حزبونو جوړول او پکې فعالیت اتفاقا ناروا دی، چې د اسلامي اساساتو مخالف وي.
په شریعت له اصولو سره ټکر نه لرونکي حزبونه جوړول یوه اجتهادي اختلافي موضوع ده، د جواز او منعې دواړه لوري پکې له شریعت څخه دلائل لري.
غوره خبره دا ده چې ملتزم او په شرعي تول پوره او پیاوړي اسلامي حزبونه رامنځته شي.
حزبونه باید له شرعي او قانوني پلوه پابند او ملتزم شي، څو ګټور او اغېزناک واقع شي.

## د څېړنې میتود

د څېړنې میتود، تحلیلي توصیفي دی چې له کتابتون او معتبرو ویبسایټو پکې کار اخیستل شوی دی.
قرأني أیتونه د سورت او أیت په بیان په نښه شوي دي.

د حدیثو نسبت د تخریج کتابونو ته شوی.
د دې لپاره چې لوستونکو ته، وړاندې او وروسته، د مراجعې اړتیا پیدا نشي، نو د هر دلیل مناقشه د هغه له ذکر نه سمدستي وروسته تر سره شوې.
د موضوع په هکله اساسي پوښتنې
۱. حزبونه د مشروعیت په اعتبار په څو ډوله دي؟
۲. کوم یې اتفاقي او کومو کې یې اختلاف دی؟
۳. د مؤیدینو او مخالفینو دلائل یې څه دي؟
۴. د اسلامي حزبونو معیارونه کوم دي؟

**د حزب معنی**

د لغت له مخې (حزب) د خلکو د یو ټولي او ډلې په معنی دی. (ابن منظور، 308/2. الرازي، 133)
سیاسي حزب په اصطلاح کې د خلکو یو متحد ټولي ته وایي، چې د ټاکلې سیاسي برنامې د تطبیق په موخه د قدرت لاس ته راوړلو لپاره، د بېلا بېلو وسائلو په مټ مبارزه کوي. (الطماوي، 543)
د خلکو راټولېدل او د هغوی تر منځ فکري نږدې والی، یو قیادت، حکومت لاس ته راوړل او یا په هغه کې مشارکت د حزبونو ګډ مفاهیم دي.

**د سیاسي حزب شرعي حکم**

د اسلامي دولت کې په اوسنۍ بڼه د سیاسي حزبونو شتون یوه معاصره فقهي موضوع ده، دا بحث د اسلامي فقهې په پخواني تراث کې نه تر سترګو کیږي.
د مشروعیت په اعتبار سیاسي حزبونه په څو ډوله دي. په بنسټیز ډول د حزبونو د مشروعیت معیار د حزبونو نظریات او موخې دي. په دې بنسټ سیاسي حزبونه په دوه ډوله دي. یو ډول هغه حزبونه دي چې په غیر اسلامي مفکورو ولاړ وي، لکه کمونستي حزبونه چې د مارکس او لینن اسلام ضد افکار او نظریات یې بنسټ دی. همدا راز هغه حزبونه چې د قومیت په بنیاد رامنځته شوي او قومي ګټو او نظریو ته پر اسلام لومړیتوب ورکوي. هغه حزبونه چې لیبرل او ازاد دي، په خپلو افکارو او کړنلارو کې اسلامي اصولو ته پابند نه دي. د داسې حزبونو د جوړولو او په هغوی کې د فعالیت د حرمت په اړه د علماوو تر منځ اختلاف نشته؛ ځکه د سیاسي حزبونو موخه د اقتدار لاس ته راوړل او د اقتدار اعمالول دي، الله تعالی فرمایي: [وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ] (المائدة، آیه44) ژباړه: څوک چې د الله په نازل کړي حکم، پرېکړه نکوي، نو هغه له کافرانو څخه دي.
په بل أیت کې راغلي: [وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ] (آل عمران، آیه: 85) ژباړه: څوک چې له اسلام پرته بل دین لټوي، هیڅکله به ورڅخه قبول نشي.

دويم ډول هغه حزبونه دي چې په خپلو نظرياتو او کړنلارو کې د اسلام اصولو ته پابند وي، د اسلامي دولت په داخل کې د داسې حزبونو په اړه د اسلامي امت علما او مفکرين په يوه خوله نه دي، ځينو يې جوړول روا ګڼلي، د دوی په سر کې معاصر عالم دوکتور يوسف قرضاوي، شيخ محفوظ نحناح، شيخ راشد غنوشي او نور علما دی. (حسن کليبي، 76،77)

ځينې نور علما لکه شيخ ابن باز، شيخ ناصر الدين الالباني، شيخ صفي الرحمن مبارکفوري د اسلامي دولت په داخل کې د داسې سياسي حزبونو د مشروعيت مخالف دي.

زموږ د بحث موضوع د سياسي حزبونو دويم ډول دی، يعنې هغه حزبونه چې په موخو او کړنلارو کې د اسلامي اصولو پابند دي.

## لومړی. د سياسي حزب د ممنوعيت دلائل

**د ممنوعيت دلائل په لاندې توګه دي:**

١. قرآني آيتونه مسلمانان يووالي ته رابلي او له ډلې ډلې کېدو څخه يې منع کوي، الله تعالی فرمايي: [**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا**] (آل عمران، آية103)

ژباړه: او ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ، خواره واره کېږي مه. بل ځای فرمايي: [**وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ**] (الأنفال، آية 46)

ژباړه: په خپلو مينځو کې شخړه مه کوئ، که نه بې زړه او ناتوانه به شئ او دبدبه به مو لاړه شي.

له پورتنيو آيتونو څرګندېږي چې د اسلامي امت يووالی د الهي شريعت له مقاصدو څخه دی، کوم چې د حزبونو په رامنځته کېدو له منځه ځي او مسلمانان ټوټې ټوټې کيږي. الله تعالی فرمايي: [**إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ**] (الأنعام، آية 159)

ژباړه: بې له شکه له هغو کسانو سره چې خپل دين يې تار په تار کړی او په جلا جلا لارو تللي، ستا هيڅ اړيکي نشته.

دا تفرقې، شخړې او دښمنۍ هغه مهال ښې جوتيږي چې حزبونه سره سيالي کوي، په ځانګړې توګه د ټاکنو پر مهال چې أن د مسلمانانو وژنو او وينو بهولو ته وار پکې رسيږي او دا کار د شريعت له مخې په هيڅ ډول روا نه دی. (الخطيب، 224)

دا واقعيت هم له چا پټ نه دی چې په زياتو اسلامي هيوادونو کې همدا سياسي حزبونه د مسلمانانو تر منځ د اختلاف، شخړو، جګړو، وهلو او وژلو لامل شوي.

علماوو له پورتني دليل څخه داسې ځواب ويلي: د دين په اساساتو او قطعي اصولو کې اختلاف کول ناروا او پورتني آيتونه د همدوی په اړه دي، پاتې شوه د دين په فروعو او جزئياتو کې اختلاف، هغه خو په واقعيت کې موجود دی، په فرعي مسائلو کې اختلاف چې د دليل په بنسټ وي د مسلمانانو وحدت له منځه نه

وړي، د امت د امامانو او مجتهدينو تر منځ په بې شمېره مسائلو کې اختلاف و، خو مينه، دوستي او ديني وروروليي يې پر ځای وه.

۲. رسول الله له ډلو او ټلوالو جوړولو منع کړې؛ ځکه د مسلمانانو تر منځ د اختلاف او فتنو راټوکېدلو لامل کيږي، (وصفي، 36) رسول الله فرمايي: "**لا حلف في الاسلام وأيما حلف كان في الجاهلية، لم يزده الاسلام ألا شدة**". (صحيح مسلم، حديث 2530)

ژباړه: په اسلام کې (د ډلو ټپلو جوړولو په نيت) هيڅ تړون نشته، (خو د خير په چارو کې) هر تړون چې په جاهليت کې و، هغه اسلام نور هم پياوړی کړی.

د دې په ځواب کې ويل شوي: چې په حديث کې له هغو ډلو منع شوې، چې د باطل، قوم پالنې او ناروا پالنې لپاره وي، لکه عربو به چې له اسلام وړاندې ويل: انصر آخاک ظالما او مظلوما. د خپل ورور مرسته وکړه، که ظالم وي او که مظلوم.

هغه ډلې او حزبونه چې په روا کارونو کې د سيالۍ لپاره جوړيږي، د پورتني حديث تر حکم لاندې نه راځي.

۳. په حزبونو او ډلو کې ننوتل او د حزب په ځانګړو افکارو کې رالوييدل، مسلمانان د يووالي په ځای په اختلاف او له نورو مسلمانانو سره په مقابله کولو باندې روزي. (الخطيب، 224) په دين کې اصل دا دی چې ټول مسلمانان په يوه لاره روان وي، که له چا سره مخالف نظر پيدا کيږي، د فرد په توګه دې يې مطرح کړي، داسې نه چې په ډلو ننوځي او بيا د خپلې ډلې له هر حق او باطل نظر څخه دفاع ته متې رابډ وهي.

۴. که په اسلامي هيوادونو کې د شتو حزبونو واقعي حالت ته ځير شو، روښانه ښکاري چې لاندې ستونزې يې رامنځته کړي.

الف: حزبونو ولس او امت په متخاصمو ډلواو ټپلو وېشلی چې يو له بل سره په جګړه او دښمنۍ اخته دي، په ځانګړي ډول په وروسته پاتې هيوادونو کې چې د افرادو د سياسي خام والي له امله په خپل منځ کې د تفاهم او يوهاوي ژبه او ترمينالوژي هم نشي رامنځته کولی او تل د خپلو ستونزو او اختلافاتو د حل لپاره زور او خشونت ته لاس اچوي، امنيت ته خطر پيښوي او ولس او حکومت ته نورې زياتې ستونزې زيږوي. (الخطيب، 54. کامل نبيلة، 36)

ب: سمه دا ده چې په دولت کې شته قوتونه راټول او د ولس د ښېرازۍ او پرمختګ لپاره په يوه لاره روان شي، خو سياسي حزبونه دي چې ولس په ملاتړي او مقابل وويشي، هر حزب مقابلې سياسي ډلې ته دامونه خواره کړي، کندې ورته جوړې کړي او کمزورې يې کړي. په دې کار سره انرژي په تخريب او ويجاړۍ کې مصرف شي، دولت ضعيفه شي،

پروګرامونه يې ناکام او پرمختګ په ټپه ودريږي(الطماوي، 543. الخطيب، 53)

ډېر ځلې داسې پېښيږي چې د ټولنې خورا متخصص او متعهد کدرونه د حزبي او ګوندي سيالي او دښمنۍ له امله سخت تخريب شي، شخصيت يې ووژل شي او له اعتباره وغورځول شي، چې په دې توګه ولس له ښو قائدينو او مشرانو څخه بې برخې شي.

ج: سياسي حزبونه په ظاهره په دې موخه جوړيږي چې د ټولنې مصالحو او ګټو لپاره مبارزه وکړي او په شخصي ګټو يې لومړۍ وګڼي، خو په عمل کې ډېرى سياسي حزبونه له دې موخې اوړي او د ټولنې د مصالحو په ځاى په حزبي او ګوندي ګټو پسې کيږي، ځينې بيا په دې کار کې دومره لاره ورَکوي چې د ګوند او حزب ګټې د ټولو مصالحو او مفاسدو لپاره معيار او تله بولي، د يوه عالم، متخصص او ولس ته د متعهد شخص ـ چې د دوى له ګوند څخه نه وي ـ په مقابل کې د خپل ګوند ناپوه تن غوره ګڼي. (الأنصاري، 379. الخطيب، 51)

هـ: حزبي توب او ګونديوالى د افرادو ازاد فکر محدودوي او د سياسي خوځښتونو د جمود لامل کيږي. د بېلګې په توګه که د کوم حزب په استازيتوب څوک پارلمان ته بريالى شي، اړ دى چې د قضاياو په اړه د ګوند له دريځ څخه ملاتړ وکړي، که څه هم د ګوند دريځ په حقه نه وي او دى ورباندې قانع هم نه وي. په دې توګه به يا ړوند او ناروا تقليد کوي او يا به ګوند پرېږدي؛ ځکه د حزبي پرېکړو مخالفت له ګوند څخه د غړي د اخراج لامل کيږي (الطماوي، 546. کامل نبيلة، 41)

ښايي له پارلماني استازو سره ډېر معقول او غوره نظرونه او حل لارې موجودې وي، خو د ګوند د پرېکړې له امله له ويلو او تطبيقولو پاتې شي.

و: په ټاکنو کې د خلکو د جذبولو لپاره دروغ او دوکه: حزبونه په ټاکنو کې د رايو خپلولو لپاره داسې پروګرامونه وړاندې کوي، چې هيڅکله يې نه عملي کولى شي او نه يې عملي کوي او د دې آيت د وعيد لاندې راځي:[ **يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ**] (الأنعام، آيۀ3،2)

ژباړه: اى مؤمنانو هغه څه ولې وايئ چې نه يې کوئ. د الله په وړاندې دا ډېره د قهر او کينې خبره ده چې هغه څه ووايئ چې کوئ يې نه.

د ټاکنيزو سياليو لپاره حقائق اړوي، دوکه کوي او دروغ وايي. (الخطيب، 54. الأنصاري، 376)

ز: په سياسي حزبونو کې دا هم کم نه دي چې قيادت، خلک د دين او هيواد په نامه جذب او تنظيم کړي خو وروسته ورڅخه ناوړه استفاده کوي او د شخصي ګټو لپاره يې کاروي، د اروابناد ګل پاچا الفت په وينا:

مـــريدان نيسي د الله په نامه
بيا ترېنه ځانته بنده ګان جوړوي

ډېر حزبي قيادتونه له ګوند څخه ناروا مالي ګټې کـوي، خپـل جيبونـه ډکـوي او أن ګوندونه خپلو ناصالحو اولادونو ته په ميراث پرېږدي، چې دا چارې هيڅکلـه لـه اسلامي شريعت سره اړخ نه لګوي.

پورتنۍ ملاحظې د هغو ګوندونو او حزبونو پـه اړه پـر ځـای دي، چې پـه خپلـو چارو کې د شريعت پوره پابندي نه کوي او په شرعي التزام کې سستي کـوي. هغـه حزبونه چې د شريعت ټينګه پيروي او پابندي کوي، د خپلو چارو لپاره د څارنې او محاسبې سيستم لري، دا ملاحظې د هغوی په اړه صدق نه کوي.

ح: که په اسلامي هيوادونو کې د شتو حزبونو مرامنامې وکتل شـي، د دوی تـر منځ په هيڅ مهمه او اساسي قضيه کې د نظر توپير نشته، که تـوپير وي، پـه ډېرو جزئي او کـم اهميتـه موضـوعاتو کـې دی، د کومـو لپـاره چـې د امـت وېشل، تفرقې رامنځته کول او د خلکو وخت ضائع کـول د هـيڅ سـليم عقـل غوښتنه نده. (مبارکفوري، 32، 31)

ط: سياسي حزبونه حاکميت او امارت غواړي، په داسې حال کې چې په احاديثو کې د حاکميت او امارت له غوښتلو منع شوې(مبارکفوري، 57)

**دويم. د سياسي حزب د مشروعيت د مؤيدينو دلائل**

دا ډله علما او مفکرين په دې نظر دي چې د اسلامي شريعت له نظره د اسـلامي دولت دننه د حزبونو رامنځته کول ممنوع نه، بلکې د ټـولنې د خـدمت او د هيـواد د ابادولو لپاره غوره کار دی.

دوی په لاندې دلائلو استدلال کړی:

١. د اسلامي شريعت د يو لـړ بنسـټونو، لکـه شـورا، امـر بـالمعروف او نهـی عـن المنکـر، مسـاوات او عـدالت د خونـديتوب لپـاره د حزبونـو شـتون اړيـن دی. د حکومـت لپـاره د شـورا او سـيالۍ ډلـې شـتون د يـوې سـکې دوه مخونـه دي، د دواړو موخه دا ده چې نظرونه مناقشه او وڅېړل شي، او هغه نظـر عملـي شـي چې د ولس مصلحت پکې زيات وي. حاکمـه ډلـه پـه يـواځې ځـان دا کـار نشـي کولی، تر څنګ يې بايد داسې څارونکې، منتقدين او مشاورين وي چې دوی تـه سمي مشورې ورکړي کـه څـه هـم د دوی د رايـې مخـالف وي. د دې څـارنې، انتقاد او مشورې لپاره منظمو جريانونو ته اړتيا ده، چې حزبونه د همدې موخې لپاره رامنځته کيږي.

په همدې بنسټ دا د ولس حق دی چې دولت داسې رغوونکو سياسي حزبونو تـه اجازه ورکړي چې هدف يې د شريعت د اساسـاتو خونـديتوب وي، پـه دې اړه خپـل نظر ولري، په پارلمان او د دولتي شوراګانو دننه يا بهر د دولت دريځونـه وارزوي او که د نقد وړ وي، نقد يې کړي، په دې شرط چې د حزبونـو افکـار او نظريـات د

اسلامي شريعت له اساساتو سره په ټکر کې نه وي. (القلعي الشافعي، 183، 182. طبيلة، 349. الخطيب، 221. الأنصاري، 433. أسد، 116)

په حقيقت کې د حزبونو کړنې له حکومت سره په مرسته او تعاون راڅرخي، الله تعالى فرمايي: [وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى] (المائدة، آية 2) ژباړه: يو له بل سره په نېکۍ او تقوا کې مرسته وکړئ.

ځينې پوهان وايي چې له حزبونو پرته په انفرادي توګه هم شورائيت او د دولتي پاليسيو د نقد چاره ترسر کېدای شي. (مبارکفوري، 84) خو سمه دا ده چې هغسې چې حزبونه په جماعي، منظمه، علمي، دقيقه او اغېزناکه توګه دا چاره تر سره کوي، په انفرادي توګه هغسې نشي ترسره کېدای.

۲. د نظرونو اختلاف هغه فطرت دی، چې الله تعالى پرې انسانان پيدا کړي، الله پاک فرمايي: [وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ النَّاسَ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَا يَزَالُونَ مُخْتَلِفِينَ] (هود، آية 118) ژباړه: که ستا رب غوښتي وای، نو ټول خلک به يې يو ملت ګرځولی و ( خو دا يې د خدايي غوښتنه نده)، نو ځکه به تل دوی يو له بل سره په اختلاف کې وي.

کله چې نظري اختلاف د انسانانو فطرت دی، نو غوره ده چې دا ښه وکارول شي او د مصالحو او ګټو لپاره ترې کار واخيستل شي. هر اختلاف هم بد او شر نه وي، بلکې ډېرو نظري اختلافاتو د حقائقو په برسېره کولو کې مرسته کړې. همدا راز جماعتي او منظمې هڅې د فردي او غير منظمو هڅو په پرتله ښې پايلې لري.

بله دا چې ممنوع اختلاف هغه دی چې په اصولو کې وي، په فروعو او جزئياتو کې اختلاف چې په دليل ولاړ وي جائز دی، له همدې اختلافاتو خو فقهي مذهبونه راوټوکېدل چې د مشرانو تر منځ يې مينه او دوستي وه، که په همدې توګه سياسي حزبونه رامنځته شي چې د قضاياوو لپاره مشروع اجتهادونه او علمي حل لارې وړاندې کړي کوم ناروا به رامنځته شي؟ أيا دا د امت له يووالي او عقيدې سره کوم ټکر لري؟

که په حق کې له يو بل سره د مرستې لپاره، په پرمختګ او د ښېګڼې په کارونو کې د سيالۍ لپاره ډلې رامنځته شي، أيا دا به د تفرق او دښمنۍ په معنى وي؟ (القلعي الشافعي، 183، 182. الغزالي، 349)

۳. د رسول الله له وفات وروسته په سقيفة بني ساعده کې د رسول الله صحابه د مسلمانانو د امير په اړه دوه ډلې شول، انصارو چې مشر يې سعد بن عباده و، ويل: يو امير به زموږ له ډلې وي، بل به ستاسو له ډلې. مهاجرينو – چې مشري يې ابوبکر کوله- ويل: نه، موږ اميران يو او تاسو وزيران. په دې اړه دواړو ډلو خپل دلائل وړاندې کړل او ښه ګرم بحث وشو. په پای کې د ابوبکر په امارت د صحابه وو اتفاق راغی.

پورتنۍ مشهوره کيسه چې د سيرت په کتابونو کې راغلې، جوتوي چې د يوې سياسي قضيې په اړه دوه ډلې (حزبونه) رامنځته شول، هرې ډلې خپل مشر،

مؤیدین او غړي، سیاسي دریځ او خپل دلائل لرل او له تاوده بحث وروسته یوه حل ته ورسېدل.

دا کیسه دا هم جوتوي چې په اسلام کې معارض او مقابل سیاسي تجمعات کول، د مخالف نظر اورېدل او بحث کول ځای لري؛ ځکه دا ټول د خلکو د مصلحت لپاره ترسره کيږي، هغه چې په اسلام کې ځای نه لري استبداد او د حاکم له خوا په خلکو په زور خپله رآیهٔ منل دي. سیاسي حزبونه له دې پرته نور څه نه دی، چې خلکو ته خپل سیاسي نظریات وړاندې کوي، دلائل بیانوي، د خلکو قناعت لاس ته راوړي او د هغوی په خوښه او ملاتړ قدرت لاس ته راوړي او اعمالوي يې.

۴. سیاسي حزبونه د مرسله مصالحو له ډلې دي چې د معتبروالي یا ملغی کولو په اړه یې نص نشته. سیاسي حزبونه د (ما لا یتم الواجب الا به، فهو واجب) «هغه چارې هم واجب دي، چې له کولو پرته یې واجب نه بشپړيږي» له جملې څخه دي؛ ځکه سیاسي حزبونه د خلکو ګڼې مصالح خوندي کوي، لکه د ازادیو خوندیتوب او هم د زیاتو مفاسدو مخنیوی کوي، لکه استبداد او د بیان د ازادئ منع کول. شریعت استبداد نه تائیدوي، بلکې په چارو کې مشوره واجبوي، الله پاک فرمايي: [وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ] (آل عمران: ۱۵۹) ژباړه: او په کار کې ورسره مشوره وکړه.

په سیاسي چاپیریال کې شورا یواځې هغه مهال بشپړيږي، چې حاکمه ډله خپل سیاسي مخالف ته د نظر ښکاره کولو لاره هواره کړي، کومه چې د سیاسي حزبونو په شتون کې منځته راځي. په دې بنسټ د سیاسي حزبونو شتون د حقیقي شورائیت غوښتنه ده. (الخطیب، 222. الأنصاري، 435. غرایبة، 249. عثمان، 265، 264)

۵. د سیاسي حزبونو شتون زیاتې دیني او دنیوي ګټې لري، چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو:

الف: حزبونه د ولس ستونزې په ښه توګه تشخیص او روښانه کوی، د اهمیت او لومړیتوب له پلوه یې ترتیبوي. ستونزې په علمي او اکاډمیکه توګه څیړي او مناسبې حل لارې ورته راباسي.

ب: حزبونه د دولت د اهمیت او مسؤولیتونو په اړه د ولس پوهه لوړوي، سیاسي بصیرت یې زیاتوي او د یو داسې بیدار او ویښ ملت په رامنځته کولو کې برخه اخلي چې د دولت څارونکی، ساتونکی او همکار وي.

ج: سیاسي حزبونه د ملت او حکومت تر منځ پل دی، د ولس غږ او نظریات حکومت ته رسوي، أن د حزبونو له لارې د ولس استازي حکومتونو ته ننوځي او د هغوی نظریاتو او غوښتنو ته د عمل جامه اغوندي. (الطماوي، 548. الأنصاري، 373)

هـ: د حکومتونو او افرادو په پرتله د حزبونو عمر زيات وي، پـه همـدې بنسـټ حزبونه د خپلو علمي کدرونو په وسيله د هيواد د ښيرازۍ او پرمختګ لپاره اوږده پروګرامونه جوړوي او اوږد فکر کوي.

و: حزبونه د مخالف او څارونکي په توګه تل د حکومت د کړنو دقيقه او شـامله څارنه کوي، د تېروتنې، فساد، ظلم او سستۍ پر مهال غبر پورته کوی او پر حکومت فشار واردوي. د افرادو په پرتله د حزبونو غږ او فشـار غښـتلی او اغېزناک وی. دا کار په حقيقت کې اصلاح او د امر بالمعروف او نهـی عـن المنکر په معنی دی چې قرأني أيتونو يې غوښتنه کـړې، الله تعـالی فرمـايي: [كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّـاسِ تَـأْمُرُونَ بِـالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَـوْنَ عَنِ الْمُنْكَـرِ] (آل عمـران، آيـۀ110) ژبـاړه: تاسـو هغـه غـوره ډلـه يـئ چـې د خلکـو د ښـيګڼې لپـاره راايستل شوې ياست، په نېکۍ امر کوئ او له بدۍ منع کوئ.

په بل أيت کې فرمايي: [وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَـأْمُرُونَ بِـالْمَعْرُوفِ وَيَنْـهَـوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ] (آل عمران، آيۀ104) ژباړه: او بايد لـه تاسـې څخـه يـوه ډلـه وي چـې د خير په لور بلنه کوي، په نېکۍ امر کوي او له بدۍ منع.

راشده خليفه ګانو ابوبکر او عمر هم له خلکو غوښتنه کړې وه، چې کـه دوی لـه سمې لارې واوړي، نور مسلمانان به يې لارښوونه کـوي. د اهـل سـنت والجماعـت عقيده دا ده چې له پيغمبر وروسته هيڅوک له خطا او تېروتنې معصوم نه دی.

ز: حزبونه د سياسي فعاليتونو په تـرڅ کـې حکومتـدارۍ تـه کدرونـه روزي، نـه پرېږدي چې د حکومتولۍ لپاره د وړ او تجربه لرونکو اشخاصو خلا رامنځته شي، حتی د حکومتونو د سقوط او اضطرار پر مهال د قدرت د خلا رامنځته کېـدو مخـه نيسي او هيواد له انارشۍ او ګډوډۍ څخه ژغوري. حزبونه کولی شي په هيواد کـې د لويـو فتنـو او خـارجي مـداخلو مخـه ونيسـي. (الحلـو، 269. بسـيوني، 325. الطماوي، 547. الأنصاري، 373)

ح: سياسي حزبونـه پـه تولـو دريځونـو او کړنـو کـې تـل د حکومـت مخـالف او معارض هم نه وي، بلکې ډېرې کـاري سـاحې داسـې دي، چـې حزبونـه لـه حکومت سره مرسته کوي او د هغه دندې بشپړوي، لکه په تعليمي ډګـر کـې ښوونځي، مدرسې، جوماتونـه، پوهنتونونـه او تحقيقـاتي مرکزونـه جـوړول، روغتونونه جوړول، د خلکو د توجيه او خبرولـو لپـاره راډيـو، تلـويزون او نـور رسـنيز وسـائل رامنځتـه کـول، د هيـواد د مـادي ودانـۍ پـه برخـه کـې ښـارګوټي، پارکونـه، پلونـه، لارې او د خـدمت رضـاکارې ډلـې جـوړول او داسې نور.

## راجح او غوره نظر

که د حزب قيادت د پوهو او صالحو افرادو په لاس کې وي او په خپلو دريځونـو او چارو کې د شريعت بشپړه پابندي غوره کړي، نو راجحه دا ده چې د مشروع اميـر

په اجازه تحزب یو مشروع او روا عمل دی؛ ځکه په داسي حزبونو کې د دین او خلکو لپاره زیاتې ګټې شته، چې مخکې مو یادې کړې او د تکرار اړتیا یې نشته.

**تبصره**

مشروع سیاسي حزبونه په خپل جوړښت کې د مسلمان فرد په څېر دي. کله چې د فرد عقیده سالمه او په عملونو کې یې کفر نه وي، مسلمان ګڼل کیږي او په ګناه سره د اسلام له دائرې نه وځي. همدا راز سیاسي حزبونه هم چې په مرام او کړنلاره کې د اسلامي شریعت پابند وي، د افرادو په ګناه او په دریځونو کې په خطا، د اسلام له دائرې څخه نه وځي، په سیاسي حزبونو کې همغه زیات غوره دی چې په مرام، کړنلارو او عمل کې د شریعت زیات پابند وي.

**د حزبونو شرعي معیارونه**

په اسلامي شریعت کې د حزبونو لپاره جواز مطلق نه دی، بلکې حزبونه باید په یو لړ معیارونو برابر وي، دا معیارونه او اوامر پوره کول اړین دي. په اسلامي ټولنو کې چې له حزبونو کومې ستونزې زیږېدلې، لامل یې همدا شرعي اوامر او معیارونه نه پوره کول دي، که نه حزبونه جوړول پخپل ذات کې کومه بده پدیده نه ده.

**دا لارښوونې او معیارونه په لاندې توګه دي:**

الف: د حزبونو مشروعیت باید د شرعي قواعدو او اساساتو په تطبیق کې ولیدل شي، که حزبونه په خپلو موخو او چارو کې له کمې او زیاتې پرته د شریعت پابند وي، نو تحزب یې مشروع او نېکه ډله ګڼل کیږي، خو که حق یواځې په ځان کې منحصر ګڼي، خپلې رایې او ډلې ته تعصب کوي، د مخالف لوري حق خبره هم نه مني، نو خپل مشروعیت له لاسه ورکوي.

ب: حزبونه باید د مسلمانانو خدمت او د هیواد ښیرازۍ او پرمختګ ته کار وکړي، د مسلمانانو تر منځ د تفرقې او دښمنۍ رامنځته کولو څخه مخنیوی وکړي. له خپلو هم حزبو پرته نور مسلمانان، کافر، فاسق او سپک ونه ګڼي.

ج: حزبونه باید خپلو دریځونو او چارو د شرعي تخریج او تأصیل لپاره د جیدو علماو ټولی ولري او له هغوی استفتا وشي. د حزب په داخل کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د محاسبې سیستم ولري، څو د ناروا او تېروتنو مخه ونیول شي.

د: د دین د قطعي او ثابتو حکمونو او عقائدو درناوی وکړي، په اتفاقي قضیو کې همکاري او په اختلافي چارو کې نور مسلمانان معذور وګڼي.

هـ: په حزبي مبارزه او سيالۍ کې له دروغو، دوکې، حقـائقو پټولـو، شخصـيت وژلو او د اشخاصو او حزبونو ناحقه او دروغو ستاينو څخه ځان وساتي.
و: له خپل ګوند او حزبيانو سره په ناروا چـارو کـې اتفـاق او مرسـته ونکـړي، بلکې له نورو لومړی خپلو ملګرو تـه د حـق توصـيه وکـړي. د حـق معيـار شريعت وګڼي نه ګوندي دريځونه.
ز: څرنګـه چـې حزبونـه جـوړول د خلکـو تـر مصـالحو او ګټـو پـورې تړلـې موضوع او له اجتهادي مسائلو څخه ګڼل کيږي، د حزبونو جوړولـو لپـاره د شرعي امير اجازه هم شرط ده. که حـالاتو تـه پـه کتـو سـره شـرعي اميـر د حزبونو جوړول د خلکو په خير او مصلحت ونه ګڼي او اجازه ورنکـړي، د حزبونو جوړول جواز نه لري.

**پايله**

د اسلامي دولت دننه د اسلامي حزبونو جـوړول د معاصـرو علمـاوو پـه آنـد يـوه اختلافي موضوع ده. د هيوادونو قوانين د اولو الامر امر دی، البته اولـو الامـر بايـد په مشروع توګه واک ته رسېدلي وي، د خلکو په استازيتوب واک وچلوي، لـه دوی نه مشورې واخلي، عمومی مصالحو او ګټو ته پابند وي، نو په کومو هيوادونو کـې چې په قوانينو کې سياسي حزبونو تـه جـواز ورکـړل شـوی وي، حزبونـو جـوړول جواز لري او چې په قوانينو کې منع شوي وي، هلته دې حزبونه نه جوړيږي؛ ځکه د مشروع اولو الامر پرېکړه اختلاف له منځ وړي.

**وړانديزونه**

۱. د استبداد د مخنيوي لپـاره د حزبونـو جـوړول اړيـن دي، خـو بايـد پـه يـو سـالم چوکاټ کې دننه فعاليت وکړي.
۲. په دې مقاله کې د بيان شوو معيارونو په رڼا کـې دې د حـزب جوړولـو قـوانين اصلاح او تازه شي.
۳. د انتخاباتو په قانون کې دې داسې بنسټيز بدلونونـه راوسـتل شـي، چـې د نـاروا موخو مطرح کول او د ناروا وسائلو کارول منع کړای شي.
۴. په هيواد کې دې محدود پياوړي اسلامي حزبونه رامنځ ته شي او کانديدان دې د هغوی د برنامو په بنسټ ځانونه کانديدوي.
۵. د حزب جوړولو شرائط دې سخت کړای شي چې د حزب پـه نـوم د سـوداګرۍ مخه ونيول شي.

په ګران هيواد افغانستان کې له فساد او درغلۍ نه د پاک او د خلکو د عامـه ګټـو ساتونکي سياسي نظام په هيله.

**منابع:**


- قرآن کریم.
- صحيح مسلم.
- ابن منظور، ابو الفضل جمال الدين محمد بن مكرم(ـــــ) لسان العرب، بيروت، دار صادر.
- الرازي، محمد بن أبى بكر بن عبد القادر(١٩٩٧م) مختار الصحاح، بيروت، المكتبة العصرية.
- الطماوي، سليمان محمد (١٩٩٦م) السلطات الثلاث في الدساتير العربية المعاصرة وفي الفكر السياسي الاسلامي، القاهره، دار الفكر العربي.
- حسن كليبي، يوسف عطية (٢٠١١م، رسالة الماجستير) حكم اقامة الأحزاب في الاسلام، جامعة النجاح الوطنية، فلسطين.
- الخطيب، نعمان احمد (١٩٨٣م، رسالة الدكتوراه) الأحزاب السياسية ودورها في أنظمة الحكم المعاصرة، جامعة عين شمس، القاهرة.
- وصفي، مصطفى كمال (٢٠٠٩م) النظم الاسلامية الأساسية، القاهرة، دارعالم الكتب.
- كامل، نبيلة(ـــــ) الأحزاب السياسية، القاهره، دار الفكر العربي.
- الأنصاري، عبد الحميد اسماعيل (١٩٩٦م) الشورى وأثرها في الديمقراطية، القاهرة، دار الفكر العربي.

- مباركفوري، صفي الرحمن(٢٠١٢م) الأحزاب السياسية في الاسلام، القاهرة، دار سبيل المسلمين للتوزيع.
- القلعي الشافعي، ابو عبدالله محمد بن علي بن الحسن(ـــــ) تهذيب الرياسة وترتيب السياسة، الأردن، مكتبة المنار.
- طبيلة، القطب محمد (١٩٧٦م) إلاسلام وحقوق الانسان، القاهرة، دار الفكر العربي.
- أسد، محمد أسد(١٩٦٤) منهاج إلاسلام في الحكم، بيروت، دار العلم للملايين.
- الغزالي، ابو حامد محمد بن محمد(١٩٨٨) التبر المسبوک في نصيحة الملوک، بيروت، دار الكتب العلمية.
- غرايبة، رحيل محمد(٢٠٠١م) الحقوق والحريات السياسية في الشريعة إلاسلامية، عمان، الأردن، دار المنار.
- عثمان، محمد فتحي (١٩٧٩م) أصول الفكر السياسي إلاسلام، بيروت، الطبعة الثانية.
- الحلو، ماجد راغب (١٩٩٦م) الدولة في ميزان الشريعة، الإسكندرية، دار المطبوعات الجامعية.
- بسيوني، عبد الغني عبد الله (١٩٨٤م) النظم السياسية، إلاسكندرية، الدار الجامعية.